د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د لوړو زده کړو وزارت

پکتیکا پوهنتون

کرنې پوهنځی

# کمال خان بند او په سیمه یې کرنیزې اغیزې.



Ketabton.com

ليکوال:- نامزد پوهنیار سیدالرحمن مجیدي( کرنې پوهنځي د هارتیکلچر څانګې استاد)

کال:- ۱۳۹۹ ل ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

نحمده ونصلی علی الرسوله الکریم، امابعد فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم.

قال الله تعالی فی القران المجید والفرقان الحمید( وجعلنا من الماء کل شی حیا) وایضا کما قال الله التعالی ( وانزل من السماء ماء فاخرج به من الثمرات) الایه.

اوبه د انسان په ژوند کې حیاتي رول لري، د بشریت لومړنۍ راغونډېدنه هم د سیندونو ته په ور څېرمه سیمو کې شوې ده، او لوی او ستر تمدونونه د اوبو او سیندونو په څنډو کې رامنځته شوي دي، یعنې اوبه د تمدونو د پنځېدو لامل ګڼل شوي دي، د لته ځیني مدینتونه د سیندونو په نوم جوړ شوي دي، لکه د د اورال مدنیت ، دجلې او فرات مدنیت، چې په لومړي ځل لپاره په کې کرنه پیل شوې ده، اوبه په نړیوال سیاست کې د یو ستراتیژیک عنصر په توګه مطرح شوي دي،یو شمیر شنونکي اوسنۍ پیړۍ ته د اوبو پیړۍ‌هم وایي، او ځینې لیکوالان اوبو ته رڼه تیل هم وایي، دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره هینک دونکرس کارولې، چې هغه وایي، اوبه اوس په نړۍ واله کچه دومره ستراتیژیک رول لري؛ لکه پطرول، BBC په ۱۹۹۳میلادي کال کې د اوبو د جګړې په اړه فیلم وړاندي کړ، څرنګه چې په نړۍ کې هره ورځ ۹۵۰۰ ماشومان د اوبو د قلت له امله مري، او پاکو اوبو ته لاس رسی نه لري، د اوبو په اړه در ہیم کانفرانس چې په ټوکیو کې جوړ شوی وو، او ټولې هغه سیمې چې د اوبو په سر جګړې په کې شوي دي، د پخواني شوروي اتحاد د ولسمشر میخایل ګورباجوپ لخوا په نښه شوې، هغه وویل چې تر اوسه په نړۍ کې ۲۱ شخړې د اوبو په سر رامنځ ته شوي دي، چې ۱۸ یې یوازې د اسرایلو دي، په اوسني عصر کې ځیني نوي اصطلاحات (water bank) (water rate) (water refugees) (water storage) دا د اوبو ستراتیژیک ارزښت په ډاګه کولو کې مهم عوامل دي، اوبه د ځمکې وینې دي او بدیل یې ناشونی ده.

## د هلمند سیند

نیمروز ولایت د هیواد د ګرمو ولایتونو له جملې څخه دی، چې په لویدیځ کې له ایران هیواد سره او په جنوب کې له پاکستان هیواد سره مشترکه پوله لري، د جغرافیایي موقیعت له پلوه خاص ارزښت لري، نیمروز وچه او ګرمه هوا لري، په نوموړي ولایت کې د لویو او کوچنیو سیندونو شتون او بهیدل د نوموړي ولایت د اوسیدونکو پام د کرنې، مالداري، کب نیونې او سیاحت طرف ته راګرځولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیلمند سیند چې د هیواد له لویو سیندونو څخه دی، په همدې ولایت کې د سویل څخه د لویدیځ طرف ته بهیږي، او د هندوکش له غرونو څخه سرچینه اخلي، د دې سیند پر سر لومړي ځل ۱۸۷۱ میلادي کال کې د افغانستان او ایران تر منځ منازعه را منځته شوه، کله چې ګولډ سمنټ د ایران او افغانستان سرحد تثبیتاوه، مګر د اوبو د ویش په اړه یې کوم ترتیبات ونه نیول، او دا موضوع همداسې جنجالي پاته شوه، د هیلمند سیند کلونه وروسته د وچکالي له امله خپل لوري بدل کړ، په ۱۹۰۵ میلادي کال کې انګلیسي استازی مکماهن یو ځل بیا مداخله وکړه، هغه ۲/۳ برخه د هلمند د سیند اوبه افغانستان او ۱/۳ برخه اوبه یې د ایران هیواد ته ورکړې، دا قانون تر ۱۹۳۰ کال پوري عملي وو، خو مګر وچکالۍ دواړو خواوو کې اوبو ته زیاتي تقاضا له امله یو ځل بیا اختلافات پیدا شول، په ۱۹۷۳میلادي کال کې یو ځل بیا د افغانستان د وخت صدراعظم محمد موسی شفیق او ایرانی سیال عباس هویدا تر منځ هوکړه وشوه، چې له دي هوکړې له مخې ایران په یوه ثانیه کې ۲۶ متره مکعب اوبه تر لاسه کولی شي، چې د دې مقدرا اوبو اندازه په یوه ثانیه کې ۲۲ متر مکعب د ایران هیواد حقابه او ۴ متر مکعب اوبه بیا د حسن نیت او ورورګلوۍ له امله ورکړل شوې دي،خو د وچکالي په موسم کې بیا دا قانون د تعدیل وړ ده، خو مګر ایران بیا هم د اوبو حفر کول ، ذخیره او د زیات استعمال د اصولو خلاف کار ان تر اوسه پورې جاري وساته، پخواني سیستان چې د روښانه تاریخي سوابقو له امله یو مهم او تاریخي ولایت دي، کله چې ایران د انګریزانو په مرسته په سیستان حمله وکړه، نو د هیلمند په سیند په اوبو کې یې د حق ابی ادعا وکړه.

## کمال خان بند

کمال خان بند د هیلمند په رود د اوبو د مخ ګرځوني یو بند دی، چې د نیمروز ولایت د زرنج ښار ۹۵ کیلو متري کې د چهار برچک ولسوالي پروت دی، دا بند د پخوا زمانو څخه جوړ شوی و و، خو د تیمور لنګ سره سیستانیانو سخت قهر او عضب له امله دا مهم او حیاتي بند وران شو، ځمکه شاړه او اوبه یې د ایران هیواد ته یو ځل بیا په بهیدو شوې، په ۱۳۴۵ کال کې بیا داود خان په وخت کې د دي بند سروي پیل شوه، خو مګر د سردار داود خان د واکمني له ختمیدو سره د دې بند چارې په ټپه ودریدې، له هغه نه وروسته یې بیا چارې په ۱۳۸۵ ل ل کال کې پیل شوې، خوشبختانه چې اوس د دې مهم بند رغنیزې چارې تکمیل او د ۱۴۰۰ ل ل کال د وري د میاشتې په دوهمه نیته چې د بزګر له ملي ورځې سره سمون خوري، د هیواد د ولسمشر داکتر محمد اشرف غني لخوا رسما ګټي اخیستنې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسپارل شي، چې د دې حياتي بند تاثيرات به د سيمې اقتصادي، سياسي، فرهنګي، زراعتي او اجتماعي پرمختګ سبب وګرځي.

## د کمال خان د بند تاثيرات د سيمې په کرنه باندې

**۱:- د اوبو ذخيره کول:** - څرنګه چې د کرنيز سکتور د پياوړتيا لپاره اوبه ډيرې مهمې دي، نو په اوسني وخت کې د اوبو ذخيره کول ډير يو اشد ضرورت دی، څرنګه چې زمونږ اوبه بغير له کومې موثرې استفادې ګاونډيانو ته ورځي،او په داسې حال کې چې ګران هيواد ٪۲۸,۷ په اوبو باندې تکيه هيواد ده،نو ياده ستونزه جدي ده، کمال خان د هيلمند سيند د اوبو د مهار ولو لپاره يو مهم بند دی، چې ۵۲ ميلونه متره مکعب اوبه ذخيره کوي، چې نوموړې اوبه به د کب نيولو ،توريزم، کيشتۍ چلوولو او نور کارونو لپاره زمينه برابر کړي، پخوا به چې کله سيلابونه راوتل هغه به مستقيماً د ايران خاوري ته ننوتل، خو مګر اوس هغه په همدي کاسه کې ذخيره کيږي ۸۵۰ ميلونه متره مکعب اوبه به د سيلابونو له طريقه چې د کال په اوږدو کې به راوتلې،مهار او په ياده کاسه کې به ذخيره شي.

**۲:- د سيمي د اوبو د سطحی لوړيدل :-** څرنګه چې په هيواد کې د اوبو د مديريت، د اوبه ئيزو منابعو د ساتني لپاره او د سطحي راونو اوبو څخه د استفادې لپاره کوم خاص او مناسب ميکانيزم شتون نه لري، او تحت الارضي اوبه په ډيره بي رحمۍ سره د توربينونو ، ماشينونو، واټر پمپونو او په اوسني وخت کې د برقي هندارو يا سولري انرژي پر مټ په اسانه او ارزانه ډول را خيژول کيږي، او د تحت الرضي اوبو سطحه يا Water table نور هم لاندې ځي، په دې سره د ځمکې لاندې اوبه کميږي، او شايد د وخت په تيريدو سره يو لوی انساني ناورين رامنځ ته کړي، ځکه چې هر کال په نړۍ کې ۹۰ ميلونه وګړي اضافه کيږي، او په نړيواله کچه د اوبو کالنی ضرورت ۹۰ ميليارده ليټره ده، خو متاسفانه چې موږ نه د سطحي اوبو د ساتني لپاره کوم مناسب پلان لرو، او نه د تحت الاريی اوبو لپاره ښه فکر لرو، که چيرته د کمال خان بند جوړ شي، له نورو ارزښتونو سره سره د سيمې د ځمکی لاندی يا تحت الاراضی اوبو سطحه هم پورته شي، او نوموړي ذخيره شوې اوبه به په کرنه کې استعماليږي، او له کوهيانو څخه به د کرنيزو ضرورتونو او څښاک لپاره پريمانه اوبه نه راويستل کيږي، د تحت الارضي اوبو په راويستلو سره د اوبو سطحه ټيټيږي، د کرني قيمت لوړيږي، د هندوستان په تاميل ناډو ايالت کې د يوی لسيزي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوران کې چې په مسلسل دول له کوهیانو پریمانه اوبه راویستل شوې، نو د تحت الارضي اوبو سطحه په یاده سیمه کې له ۲۵ تر ۳۰ متره پورې نوره هم ښکته لاړه.

**۳:- د شاړو ځمکو اباده ول:-** څرنګه چې اوبه یو مهم تولیدي فکتور دی، او خاوره هغه وخت اباده وي چې اوبه ولري، کله چې اوبه وي، خاوره اباده، سمسوره او زرغونه وي، او کله چې اوبه نه وي نو حاصل خیزي د یوی سیمي له منځه ځي، او په شاړو دښتو بدلیږي، څرنګه چې نیمروز ولایت پریمانه شاړي دښتي او ارتې صحراوې لري، نو د کمال خان بند به په دې برخه کې ډېر مفید ثابت شي، د نیمروز ولایت د کمال خان د بند کاسه تر ۵۲ میلونه متره مکعبه اوبه ذخیره کولی شي، چې تقریباً د ۸۰۰۰۰ هکتاره ځمکي د خړوبو وني توان لري، که چیرې له یاد بند څخه په سم او عصری ډول د کانالونو جوړول تر سره شي، او تر شاړو دښتو د اوبو ورسول شي، نو د سیمي د ښیرازي سبب ګرځي او د سیمي بڼه بدلولای شي.

**۴:- د ځمکو د تخریب مخنیوي:-** د پیچلو درو او غرونو تر منځ د سیندونو بهیدل د دي لامل کیږي چې د کال په مختلفو فصلونو چې شدید اورښتونه رامنځ ته شي،د سلابونو راوتلو باعث ګرځي، سیلابونه هم په یوازې او هم که چیرته له سیندونو سره ګډ شي، د فزیکي تاوانونو سره سره د زیاتو نورو زیانونونو لکه تلفاتو، زیربناوو، ولاړو فصلونو د تخریب باعث هم ګرځي، له یوي خوا سستو او رسوبي موادو انتقال ګاونډیو هیوادونو ته؛ او له بلې خوا د زیاتو کرنیزو او حاصل خیزو خاورو د تخریب باعث ګرځي،د خاورې حاصل خیزه پوښ، منرالي او عضوي مواد نورو سیموته له ځانه سره وړي، څرنګه چې نیمروز ولایت ګرم او وچ اقلیم لري، او خاوره شګلنه ده، د ګرم او وچ اقلیم له امله نباتي پوښ نلري، نو په دا سیمې تر شدید بادي تخریب لاندې دي، علاوه له دې څخه سیلابونو پواسطه هم خاوره تخریبیږي، یوه څیړنه ښئي، چې په کال کې ۲۵۰۰ میلیون مټریک ټنه خاوره تخریبیږي، په داسې حال کې چې د یو انچ سرینې خاورې د ابادي او جوړولو لپاره له ۵۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ کالونه وخت ته اړتیا ده، په داسي سیمو کې بارانونه په یو یا دوه فصلونو کې bimodal .unimodal اوریږي او زیات تخریبات لري په خاوره کې ریلونه Rillsتخریب او Gully تخریب رامنځته کوي، چې په نتیجه کې ښیرازه خاورې د وړلو تر څنګ کندې، کندې کوي، کمال خان د بند کاسه به دا ستونزه حل کړي سیلابونو اوبه به ذخیره کړي او کانالو په مټ به ریل او ګلي تخریب مخنیوي وکړي یعني همدغه بند به سیلابونو په کنټرول کې مهم رول ولري چې په دي سره به د نیمروز ولایت اساسي پرمختګ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵:- د برېښنا تولید او پروسس فابریکو فعالیدل:-** څرنګه چې د کمال خان بند د اوبو له ذخیري سره سره د برق د تولید وړتیا هم لري، نو دا به په یاده سیمه کې کرنیزسکتور د لا قوت باعث وګرځي،څرنګه چې نیمروز ولایت سرحدي ولایت دی، نو ډیری وخت د بزګرانو لپاره د کرنیزو محصولاتو د ساتنی، ذخیرې، انتقال او پروسیس امکانات موجود نه وي، نو په کمه بیه د تولید په وخت کې خپل محصولات بازار ته عرضه کوي، او د ګاونډیو هیوادونو ته ځي، کمال خان بند د ۹ میګا واټه د برېښنا په تولید سره به تر ډیره دا ستونزه حل شي، او په یاده سیمه کې به د کرنیزو محصولاتو د ساتنې او پروسیس فابریکې فعالې شي، د بزګر په اقتصاد به مثبت تاثیر وکړي، ځکه چې په اوسني وخت کې ډیری محصولات په ارزانه بیه پلورل کیږي، علت دا ده ؛ چې محصولات په یو وار د عرضه کیدو له امله چې په بازار کې د تقاضا کچه کمه وي،او لا خوسا کیږي، چې دا په خپله د بزګر د ژوند د وضعیت د لا ښه کیدو باعث ګرځي.

**۷:- د څړځایونو پرمختک او د محصولاتو زیاتوالی:-** څرنګه چې د ګران هیواد وګړي له ۸۱ څخه تر ۸۵ فیصده پورې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کرنه او مالداري بوخت دي، او د ښه او هوسا ژوند لپاره عایدات د همدې لارې څخه ترلاسه کوي، خو مګر د مالداري د سکتور د لاپرمختګ لپاره د څړځایونو جوړول او همدارنګه په نوبتي شکل د څړځایونو څخه استفاده؛ د څړځایونو د عمر زیاتوالي او بقا سبب ګرځي، په ګران هیواد کې د اوبو نشتون او څړځایونو ته نه پاملرنې مالداران مجبور کړي، تر څو ګاونډیو هیوادونو ته خپل مالونه د کال په مختلفو فصلونو کې واړوي، او له غوښو، شیدو، وړیو او نورو محصولاتو څخه یې نور خلک استفاده کوي، او علاوه له دې څخه ډیری مالداران په غرونو کې د ځنګلونو څخه د څر ځایونو په حیث استفاده کوي، او هغه نوي شنه شوي نهالونه او بوټي د څر له امله له منځه ځي، چې همدا چاره د ځنګلي تخریب لپاره لاره برابروي، نو د کمال خان بند په جوړښت سره د سیمی ښه بدله، ښیرازه او څړځایونه به یې پرمختګ وکړي، چې د مالداري په برخه کې به شته ستونزې هواري شي، علاوه له دې څخه د کبانو د نیولو صنعت به هم پراختیا وکړي، څومره چې د اوبو سطحه لوړیږي، په هماغه اندازه څړځایونه پرمختګ کوي، له بله طرفه د دې بند د کاسې د ډمدو ترسباتو له امله به څړځایونه او کرنه په ښه ډول پرمختګ وکړي او د کرنیزو محصولاتو کچه به لوړه شي.

**۷:- کاری فرصتونو ایجادول:-** د کمال خان د برېښنا بند چې په پخوانیو زمانو کې جوړ وو،په سیمه کې کرنې پرمختګ کړی وو، د برق تولید پریمانه وو، خو د تیمور لنګ سره په جګړو کې د سیستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمې دا حیاتي بند ړنګ شو، او ځمکې یو ځل بیا خرابه او ویجاړه پاتې شوې، او یوه څه خلک چې په همدې برخه کې مصروف وو، بیکاره او ځینې یې مهاجرت ته اړ شول، او کرنیزې ځمکې شاړې شوې، او د اوبو سطحه ښکته شوه، بزګرانو دومره امکانات نه درلودل، تر څو د ځمکې له لاندې سطحې څخه اوبه راوباسي او سیمه اباده کړي.

**۸:-د سطحي اوبه ییزو سرچینو فعالیدل:-** ګران هیواد ۷۵ میلیارده متره مکعب اوبه لري، چې په نړیواله کچه د هر متر مکعب اوبو بیه له ۱ څخه تر ۱,۵ ډالره قیمت لري، په داسې حال کې چې یو اټکل ښيي چې افغانستان په کال کې د ۵۰ میلیارد ډالر په ارزښت اوبه له لاسه ورکوي، د دې خبرې تائید د تروندهایم پوهنتون ایراني استاد دکتر ناصر کرمي لخوا هم شوی دی، خو مګر دا حیاتي او ارزښتمنه ماده موږ څومره په اسانۍ او بې غورۍ سره له لاسه ورکوو، د پورتنیو اوبو له جملې څخه ۵۵ میلیارده متره مکعب اوبه سطحي او ۲۰ میلیارده متر مکعب اوبه د ځمکې لاندې یا تحت الارضي دي، ګران هیواد د اوبو مختلفې زیرمې لري، چې د اوبخور لپاره یې ۸۶٪ له سیندونو ۷٪ له چینو ۶٪کاریزونو او ۱٪ د ارهټ کوهیانو څخه برابرېږي، ټولټال ۲۰ میلیارده متره مکعب په کرنه کې په کالني ډول مصرفیږي، چې له همدې جملې څخه ۳ میلیارده متره مکعب اوبه د ځمکې له لاندې څخه ایستل کیږي، په دې معنا چې نه مو سطحي اوبه ساتلي دي، او د ځمکې لاندې یا تحت الارضي اوبه هم په پریمانه ډول مصرفوو، مونږ د سطحي اوبو ساتلو لپاره پلان نه لرو، او د ځمکې لاندې اوبه راوباسو، چې چینې، کاریزونه، کوهیان ټول له منځه تللي، او وچ شوي دي، هیواد په دې ډول ۶۷۴۱ کاریزونه چې ۱۶۳۰۰۰ هکتاره ځمکه یې خړوبوله، او ۵۵۵۸ چینې چې ۱۸۸۰۰۰ هکتاره ځمکه یې خړوبوله؛ او ۸۵۹۵ ارهټ کوهیان چې تقریبا ۱۳۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي، خو مګر اوس ډیرې چینې، کاریزونه او دادهټ کوهیان له منځه تللي دي، د کمال خان د بند سره به د دې سیمې د اوبو سطحي سرچینې لاډیرې او غیر فعالې سرچینې به بیرته ژوندۍ او یوه ډیره ساحه ځمکه به له همدې لارې سمسوره او د محصولاتو ارقام به لوړ شي، یوازې د کمال خان نه؛ بلکه د هیواد د ټولو بندونو جوړیدل به د سطحي اوبو سرچینې ژوندۍ او فعالې کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نتیجه ګیري

کمال خان بند د هلمند پر سیند د اوبو د مخ ګرځونې یو بند دی، چې د نیمروز ولایت د چهاربرجک ولسوالی کی د زرنج د ښار څخه د ۹۵ کیلو متر په واټن کې پروت دی، دا بند د پخوا زمانو څخه جوړ وو، چې د تیمور لنګ سره د سیستانیانو د سخت مقاومت او ورته ډیر زیانونه رسولو له امله دده د قهر او غضب سبب شو، او د باستان سیستان یا اوسني نیمروز د اوبو دا حیاتی بند یې ړنګ کړ، چې سیستان بیا خرابه پاتې شو ،په ۱۳۴۵ ل ل. کال کې د کمال خان بند د جوړولو سروې د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال پیل شوه، او کار هم ورباندې شروع شو، چې د داوود خان په وخت کی کار یی چټک روان وو، او ویل کیږی چی داوود خان په خپله له دې څخه لیدنه کړې وه، خو د کمونستی کودتاه څخه ورسته کار یې بند شو، او څه وخت وروسته ددې بند په میلونهاوو ډالره ماشینونه او وسایل لوټ شول، د نوې حکومت د جوړیدو څخه وروسته په ۱۳۸۵ کال کې په دې بند باندې بیا کارونه شروع شول، چې د ایران هیواد دمخالفتونو سره مخ شو،ددې بند د جوړیدو موخې د موسمي سیلابونو کنټرول، دکمال خان بند به د ۱۰۰ زره هکتاره ځمکې د خړوبولو او د ۹– ۸,۵ میګا واټه بریښنا د تولید قدرت ولري.

نیمروز د هیواد د ګرمو ولایتونو له جملی څخه دی چی په لویدیځ کی له ایران او په سویل کی له پاکستان سره پوله لری همدا راز په شمال کی فراه او په ختیځ کی له هلمند سره په ګاونډ کی پروت دی چی له جغرافیوی پلوه ځانګړی اهمیت لری نیمروز وچه او ګرمه هوا لری چی په اوړی کی توده او وچه او په ژمی کی معتدله وی په دغه ولایت کی د لویو او کوچنیو سیندونو شتون د نوموړی ولایت د د اوسیدونکو او څارویو لپاره مناسب شرایط برابر کړی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سپارښتنې

۱:- په هیواد کې باید نه یوازې د کمال خان بند؛ بلکه نورو بندونو ته هم جدي پاملرنه وشي، تر څو د هیواد د اوبو ضایعات کم او یوه زیاته اندازه عاید ترې لاسته راوړل شي.

۲:- د کمال خان د بند د کاسې اوبه باید د عصري کانالونو پر مټ تر شاړو دشتو ورسول شي، تر څو کرنیز محصولات پریمانه او د ګاونډیانو له محتاجی څخه خلاص شو.

۳:- د کمال خان بند څخه تولیدیدونکې برښنا باید د کرنیزو فابریکو په ایجاد کې مصرف شي.

۴:- د هیواد د ټولو بندونو د امنیت لپاره دې لازم اقدامات وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماخــــــــذونه


۱:- ایوبي، عبدالغني، د خاورو او اوبو ساتنه، کابل پوهنتون، ۱۳۹۳ ل ل.

۲:- اریوبي، برکت الله، د افغانستان د اوبو حقوق، ۱۳۹۶ ل ل.

۳:- هاشمي، محمد حنیف، د خاورو اوبو ساتنه ، لکچر نوت شیخ ذاید پوهنتون، ۱۳۹۴ ل ل.

۴:- مضلوم یار، فیاض گل، د نړۍ سیاسي جغرافیه، ننگرهار پوهنتون، ۱۳۹۴ ل ل.

۵:- حبیبي، عبدالحی ، د افغانستان تاریخي جغرافیه، انتشارات میوند، ۱۳۷۸ ل ل.

**6:-www.google.com/kamal khan dam**.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**